**د ټاکنیزو شکایتو نو کمیسیون له لورې د مالي او اداري چارو په اړوند یو روزنیز سمینار ترسره شو.**

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د مرکزِي او ولایتي کمیسیونونو د مالي او اداري کارکوونکو لپاره یو دوه ورځنی روزنیز سمینار ترسره کړ.

دغه روزنیز سمینار چې د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له لورې د چهارشنبې او پنج شنبې په ورځو د زمري د میاشتې په ۱۳ او ۱۴ نیټو د نوي ښار د انترنشنل کلب هوټل کې په لاره اچول شوی وه ، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ولایتي او مرکزي کمیسیونونو کارکوونکو ته د مالي او اداري په برخو کې د نویو مسایلو په هکله روزنه ورکړ شوه .

په دغه سمینار کې د مرکزي او ولایتې کمیسیون دمالي او اداري کارکوونکو ستونزو ته د رسیدنې په موخه د لازمو لارو چارو سلا مشورې ورکړ شوې .

دغه دوه ورځنی سمینار د مرکزي او ولایتي کمیسیونونو د مالي او اداري کارکوونکو لپاره یوه ښه موقع وه ،ترڅو د ټاکنیزو شکاتیونو د کمیسیون له اړوندو چاروکو سره لیدنه وکړي او خپلې ستونزې ددوی سره شریکې کړي .

په دغه دوه ورځنی ناسته کې د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د مرکزي او ولایتي کړنو ، د استخدام او بشري منابعو ، د مالي او اداري بهیر په اړوند د مرستې غوښتنه اود مالي او اداري چارو د لا ښه والي په اړه بحثونه ترسره شول .